# تطبیق حدود و نقش آن در تأمین امنیت

مجموعه مقالات سیمینار علمی-تحقیقی



۱۴۰۲هـ.ش

تطبیق حدود و نقش آن در تأمین امنیت
مجموعه مقالات سیمینار علمی-تحقیقی

# The Implementation of Hudud (Fixed Punishment) and it Role in Ensuring Security

2026

ISBN 978-9936-672-03-1

امارت اسلامي افغانستان
اکادمی علوم
معاونیت علوم اسلامی
مرکز فقه و قانون

# تطبیق حدود و نقش آن در تأمین امنیت

## د علمي ـ څېړنيز سیمینار د مقالو ټولگه

۱۴۰۲ لمریزکال

**کتنپلاوی:**

- څېړنپوه برهان الله نيازي
- څېړنپوه عبدالولي بصيرت
- څېړنپوه عبدالکريم فضلي
- څېړنپوه عبدالوهاب عابد
- څېړنپوه سيد حبيب شاکر
- څېړنپوه عبدالمعبود ضريري
- څېړنپوه نورالحق عزيزي
- څېړنپوه عبدالرحمن حکيمزاد
- څېړنوال اصحاب الدين رحماني
- څېړنوال محمد امان رسولي
- څېړنوال عزيز گل صافی

**مشخصات اثر:**


**نام اثر:** تطبیق حدود و نقش آن در تأمین امنیت

**مهتمم:** معاون سرمحقق یار محمد صمدی

**سال سیمینار:** ۱۴۰۲ هـ.ش / ۱۴۴۵ هـ.ق

**سال چاپ:** ۱۴۰۴ل / ۱۴۴۷ هـ ق

**ناشر:** اکادمی علوم افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

**محل چاپ:** مطبعه ستارهٔ همت، کابل – افغانستان

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شماره تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه : ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)**

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

**ISBN :** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۷۲-۰۳-۱



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د مرکز یادښت ........................................................أ
د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام..........................................۱
د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې پیغام..........................................۳
د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت پیغام ............................۵
پیام وزارت تحصیلات عالی امارت اسلامی افغانستان..........................................۷
د کورنیو چارو سرپرست وزیر پیغام..........................................۱۴
پیام وزارت عدلیه : تطبیق حدود شرعی و نقش آن در تأمین امنیت..........................۱۶
د اطلاعاتو او فرهنګ د سرپرست وزیر پیغام..........................................۲۰
د «درء الحدود بالشبهات» قاعدې څېړنه او په امنیت کې... / څېړنپوه سید حبیب شاکر ...۲۲
تطبیق قصاص و نقش آن در امنیت جامعه/ معاون سرمحقق دکتور نورالله کوثر............۴٤
تطبیق مجازات ارتداد و آثار آن / سرمحقق عبدالولی بصیرت..........................................۶۹
شناخت حد، تعزیر و امنیت / سرمحقق عبدالوهاب عابد ..........................................۸۹
د امنیت په ټینګښت کې د غلا د حد ونډه / څېړنوال د. عزیزګل صافی..........................۱۱۳
منابع و مشروعیت حدود در شریعت اسلامی / سرمحقق محمد کبیر (مشفق) ............۱٤۰
تطبیق حد سرقت و آثار آن / سرمحقق عبدالمعبود ضریری ..........................................۱۵۹
صلاحیت تطبیق حدود شرعی و تاثیر آن بر... / معاون سرمحقق اصحاب الدین رحمانی ۱۷۸
د حد قذف د پلي کېدو اغېزې / څېړنوال دکتورمحمد یعقوب عبدالرحیمزی ............۱۹۵
شرعي حدود او بشري حقونه / څېړنپوه عبدالکریم فضلي ..........................................۲۰۸
د شرابو حد پلي کېدل او د هغه اغېزې / څېړنیار عصمت الله "رحمتزی" ................۲۲۵
آثار تطبیق قصاص / معاون سرمحقق عبدالحمید وفا .......................................... ۲۴۱
اختطاف و پیامد های ناګوار آن / معاون سرمحقق یارمحمد صمدی..........................۲۵۷
بغاوت، احکام و پیامدهای آن / سرمحقق عبدالرحمن حکیمزاد ..........................................۲۷۳
امنیت و حدود شرعی / محقق محمد کریم ادیب ..........................................۲۹۶
د سکر حد پلی کېدل او د هغه اغېزې / څېړندوی ضیاءالله عادل..........................۳۲۳

د قذف حد پلي کېدل او پر امنيت يې اغېزې / څېړندوی سميع الله صاحبزاده ..........۳۳٦
په اسلام کې د جزايي قوانينو ځانگړنې / څېړندوی اسدالله مياخيل ........................۳٤۹
مسودۀ قطعنامۀ سيمينار علمی - تحقيقی ....................................................۳٦۸

# د مرکز یادښت

الحمـد للـه رب العٰلمـين والصـلوٰة والسـلام علـى سـيد المرسـلين وعلـى آلـه و أصـحابه أجمعين!

په اسلامي شريعت کې د شرعي حدودو تطبيق يوه داسې مهمه موضـوع ده چـې هـدف يې د انسانانو د ژوند، مال، عقـل، نسـل او ديـن سـاتنه ده چـې همـدا پـه اصـل کـې د شريعـت د مقاصـدو پـه توګـه پېژنـدل کيـږي، پـه هغـه ټولنـو کـې چـې شرعـي حـدود تطبيقيږي يوازې دا نه چې هلتـه د جرمونـو ګـراف ټيټيـږي او کميـږي او ټولنـه پيـاوړې کيږي بلکې ټولنه ورسره له اخلاقي پلوه وده کوي چې همدا د يوې ټولنې د خونـديتوب تر ټولو يو مخکښ عامل دی په ټوله کې شرعـي حـدود د فـرد او ټـولنې د حقونـو تـوازن ساتي، د حدودو په تطبيق سره مجرم تـه ددې درس ورکـول کيـږي چـې لـه جـرم څخـه ځان وساتي او د ټولنې د خلکو لپاره هم عبرت او درس دی چې هغوی جـرم تـه زړه ښـه نه کړي او احتمالي مجرمينو ته خبرداری ورکوي چې د جرم د ارتکاب په صورت کـې بـه هغوی ته سزا ورکول کيږي.

نو په دې اساس د فقهې اوقانون مرکز له خپـل پـلان سره سـم (د حـدودو تطبيـق او پـه امنيت کې يې ونډه) تر سرليک لاندې علمـي ــ څېړنيـز سـيمينار پـه ۱۴۴۵/۵/۵هــ ق نېټه داير کړ، چې ددې سيمينار په ترڅ کې لاندې پوښتنې :

۱: په امنيت کې د قصاص د تطبيق ونډه څه ده؟

۲: د غلا حد پلې کول او اغېزې يې څه دي؟

۳: ايا د شرعـي حـدودو تطبيقـول د بــشر لـه حقونـو سره تصـادم لـري؟ او دې تـه ورتـه پوښتنې ځواب شي.

په دې سيمينار کې د علومو اکاډمۍ، سترې محکمې، عـدليې وزارت، د ارشـاد، حـج او اوقافو وزارت، د دولتې او خصوصي پوهنتونو استاذانو او څېړونکـو ګـډون کـړی وو او پـه دې سيمينار کې د موضوع اړوند بېلابېلې مقـالې ولوسـتل شـوې؛ چـې د موضـوع ټـول

اړخونه يې روښانه او رغنده وړانديزونه وړاندې شول.
همدا راز د فقهې اوقانون مرکز له هغو څېړونکو څخه مننه کوي چې سيمينار ته يې مقالې وليکلې او له محترم څېړنوال يارمحمد صمدي هم زياته مننه کوي چې ددې سيمينار د مقالو اهتمام يې وکړ او د مقالاتو ټولګه يې چاپ ته چمتو کړه؛ تر څو فرهنګپال عوام او خواص ترې اعظمي ګټه واخلي.

په درناوي
د فقهې او قانون د مرکز رئيس
څېړنپوه عبدالکريم فضلي

بسم الله الرحمن الرحیم

# د شرعي حدودو تطبیق او په امنیت کې یې ونډه، د علمي- څېړنیز سیمینار په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام

الحمد لله وکفی والصلٰوة والسلام علیٰ عباده الذین اصطفیٰ و بعد:

د اسلام مقدس دین د الله تعالی هغه کامل، عام او شامل نظام دی، چې په منلو، انفاذ او د احکامو په پلي کولو سره یې انسان د دنیا او اخرت له نیکمرغۍ او کامیابۍ څخه برخمن کېږي.

د بیلا بیلو شرعي احکامو له جملې د حدودو مشروعیت د الله تعالی له لوري پر دې امت هغه لوی کرم او احسان دی، چې د بشریعت د علماء ارزښتونو لکه دین، ژوند، مال، عقل، عزت او نسب ساتنه ورپورې تړلې ده او په اجراء کیدلو سره یې د انسان د دغو مهمو ارزښتونو حفاظت تضمین کېږي.

الله تعالی په قران کریم کې فرمایي:( وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ). ( البقرة: ۱۷۹).

ژباړه: او ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی.

موږ وینو او تاریخي تجربو هم ثابته کړې، په کومه ټولنه کې چې شرعي حدود او قصاص اجراء کېږي، هلته د خلکو سر او مال په امن وي که څوک قتل وکړي، د شریعت له حکم سره سم قاتل قصاص شي او د نورو قتلونو، انتقام اخیستلو او نسل په نسل بدۍ پاللو مخه ونیول شي.

د حدودو په تطبیق سره که له یوې خوا د مجرم اصلاح او تادیب راځي. همدا راز د مقابل جانب (هغه چې حق یې تلف شوی) د تسلي او تشفي سبب هم ګرځي او په دې ډول عدالت تامینېږي. حدود هغه احکام دي چې د جرمونو د مخنیوي او په ټولنه کې د امن، ثبات او ډاډمن ژوند د تامین لپاره الله تعالی مشروع کړي دي.

دا ډېر د خوشحالۍ ځای دی چې د افغانستان د علومو اکاډمي د فقه او قانون مرکز لخوا د شرعي حدودو د اهمیت روښانولو په اړه علمي سیمینار دائر شوی دی. د هیواد

علمي مراكز باید د شرعي احکامو د څېړنې، خلکو تـه یـې د معـرفي، تشریح او اهمیـت روښانولو په اړه دغسې سیمینارونه نور هم دائر کړي، تر څو مو ټولنه د شرعي احکامو له فضائلو او ګټو باخبره او د نوي نسل اذهان مو تنویر شي.

په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمي له مشرتابه او ټولـو منسـوبینو مننـه کـوم چـې دغه سیمینار یې دائر کړی. دغه راز د هغو لکیوالو او څېړونکـو هـم مننـدوی یـم چـې د شرعي حدودو د اهمیت روښانولو په اړه یـې علمـي څېړنـې کـړې او بیـا یـې د لیکنـو پـه شکل ترتیب کړي دي. دغه څېړنې او لیکنې باید په چـاپې بڼـه هـم خپـرې شي تـر څـو ډیر خلک ترې مستفید او ګټه یې عامه شي الله تعالی دې ټولو ته کامل اجرونـه نصـیب کړي آمین.

**الحاج ملا محمد حسن آخند**

**د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء**

# بیانیه

د شرعي حدودو تطبيق او د ټولنې په امن کې د هغه رول تر عنوان لاندې جوړېدونکي سيمينار په هکله د اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم شيخ القران و الحديث قاضي القضات صاحب بيانيه

الحمد لاهله و الصلاة على اهلها اما بعد!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

ټولو محترمو ګډونوالو:

دا چې د اسلام دين يواځې د يو څو عقايدو او اعمالو مجموعه نه ده بلکه په انساني معاشره کې د اسلام مقدس دين د ټول بشريت دښې زندګی تېرولو لپاره يوه کامله ضابطه او ټولو مخلوقاتو د حقوقو د تحفظ يوه استواره تګلاره ده، چې د ژوند پر ټولو برخو احاطه لري.

څرنګه چې د بعضو انسانانو څخه په ټولنه کې جنايات صادرېږي يواځې انبياء عليهم السلام دي چې د غټو او کوچنيو جنايتونو څخه معصوم دي، نو ضرورت وو چې د انساني ټولنې د تحفظ او تأمين په خاطر يو کامل او مکمل قانون رامنځته سي تر څو و کولای سي چې انساني معاشره چې پر عطوفت، نرمۍ او اخوت ولاړه ده د ټولو مخلوقاتو حقوق تامينوي په يوه حيواني چاپيريال چې د ظلم، استبداد تيري او تجاوز پر محور راګرځي بدله نه سي.

**د شرعي حدودو تطبيق او د ټولنې په امن کې د هغه رول**

د يو انسان پرځان، مال او عزت باندې د تعرض قباحت بلا توپيره د ټولو انسانانو په ذهنونو کې منقوش دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مسلمان ورور د وينې، مال او عزت( اخستلو) حرام والي بيان کړی دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «... كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ» (صحيح مسلم(۱۹۸۶/۴)).

ژباړه: په هر مسلمان باندې د بل مسلمان وينه، مال او عزت(اخستل) حرام دي.

ټول امت ته د حدودو محاسن تر لمر روښانه دي، کـه څـه هـم ځنـي خلـک پـه عالمانـه توګه دعامه اذهانو د مغشوشولو د پاره ناکامه هڅې کوي.
شریعت مطهرة د عام فساد د مخنیوي او د ټولنې د امن اوقرار په غرض د ځینـو جرایمـو د پاره مقدرې جزاګانې ټاکلي، تر څو جرائم بند سې او ټولنه د امـن او سـکون پـه فضـاء کې ژوند وکړي، فاسد او مغرض وګړي د عامو خلکو او چاپیریال بدني او روحي اطمینان وا نه خلي او په نتیجه کې یې د ټولنې اجتماعي او اقتصادي ژوند رشد او نما وکړي.
که په کومه ټولنه کې حدود قائمیږي، وګړي یې پوهیږي چې که جرم تر سره کـړي سـزا به یې ویني، نو پر ټولنه د تجاوز کولو څخه ډډه کوي، که بیا هم څـوک یـو داسـې عمـل تر سره کوي چې د حد موجب وي او حد پر جـاري سي، نـو یـاد حـد یـې د تکـرار څخـه منعه کوي او پر ده باندې د حد د اجراء له امله ټولنه هم انزجار مومي.
الله جل جلاله د سرقې د حد په اړه فرمایي: [وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَـزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ] ( المائدة:۳۸)
ژباړه: د غله سړي او غلې ښځې لاسونه ورپرې کړئ! دا د هغه جرم له چې دوی تـر سره کړی، دا د عبرت د پاره د الله جل جلاله له لورې او الله جل جلاله(د احکـامو پـه انفـاذ کې) ډېر غالب او ډېر د حکمت څښتن دی( هر کار یې په تدبیر او مصلحت بناء دی).
په یاد آیت شریف کې د (نکَالًا) معنی مفسرین په عبرتناکه سزا کړې، چـې پـه دې کـې اشاره ده چې یاده سخته سزا د یو لوی حکمت په اساس ده، هغه دا چـې پـر یـوه مجـرم یاده سزا جاري سي، ټولنه ټوله وبېریږي، د یاد جرم ارتکاب څخه ځان وسـاتي، چـې لـه امله یې په ټولنه کې د جرائمو انسداد راځي.
بناء ویلای سو چې په ټولنه کې د امنیت د تأمین د پاره د حدودو انفاذ تـر ټولـو بریـالی او باحکمته تګلاره ده، په کمو صورتونو کې چې د حدودو شرائط مکمـل نـه وي پـه هغـه صورتونو کې زموږ مطهره شریعت د انساني ټولنې د امنیت لپاره تعزیرات مقرر کـړي دي چې د کیفیت او کمیت اختیار یې امام او قاضي ته مفـوض کـړی دی چـې هغـوی بـه د مجرم د جرم زمان او مکان ته په کتو تعزیر ورکوي.

# د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت پیغام

الحمـد للـه رب العٰلمـین والصـلٰوة والسـلام علـی سـید المرسـلین وعلـی آلـه وأصـحابه أجمعین:

**د شرعي حدودو نافذول او د امنیت په تأمین کې یې رول**

دا چې امنیت د ټولنې د وګړو لپاره تر ټولو اړینه او اساسي اړتیا ده او چمتو کـول یـې د نظامونو لومړنۍ دنده ده په همدې اساس د اسلام سپیڅلي دین او شریعت د هـر مجـرم لپاره داسې حدود ټاکلي چې د عقل په تقاضاء کـې هـم د ټـولنې د اصـلاح لپـاره اړیـن دي. د اسلام په تاریخ کې دا څرګنده شوې ده چې د امنیـت ټینګښـت لپـاره یـواځینۍ اسانه لار د شرعي حدودو پلي کول دي. الله تعالی د دین د ساتنې لپاره د ارتـداد حـد، د نفس د ساتنې لپاره د قصـاص، د عقـل د سـاتنې لپـاره د شرابـو څښـلو حـد، د نسـل ساتنې لپاره د زنا حد، د عزت ساتنې لپاره د قذف حد او د مال د ساتنې لپـاره د غـلا او قطاع الطریقۍ حدود ټاکلي دي، چې هر یـو خپـل شرایـط، ارکـان او انـدازه لـري. لکـه څنګه چې الله تعالی پـه قـرآن کـریم کـې فرمـایلي: ﴿إِنَّمَـا جَـزَٰٓؤُاْ ٱلَّـذِينَ يُحَـارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡـدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُـم مِّـنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِـرَةِ عَـذَابٌ عَظِـيمٌ﴾. (سورة مائدة: ۳۳).

ژباړه: بېشکه اصل خبره همدا ده څوک چې د ﷻ او د هغه له رسولﷺ سره جنګ کوي او په ځمکه کې د وراني کولو کوشش کوي، د هغوی سزا دا ده چې دوی دې قتل کـړی شي، یا دې په دار کړی شي، یا دې د دوی لاسونه او پښې ادلې بدلې پـرې کـړی شي، یا دې دوی له (دغې) ځمکې نه وشړل شي، دا د دوی لپاره په دنیا کې رسـوایي ده او د دوی لپاره په آخرت کې ببخې لوی عذاب دی.

د پورتنې مبارک آیت په رڼا کې شرعي حدود پر هغو کسانو باندې تطبیق کېـږي چـې د خلکو ژوند، مال، نـاموس او د ټـولنې امنیـت لـه ګـواښ سره مـخ کـوي. دوی تـه بایـد د شرعي حدودو له مخې د جرم مطابق سزا ورکړل شي، تر څو خلـک د امـن پـه فضـا کـې

ژوند وکړي.
لکه څرنګه چې رسول ﷺ فرمایلي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم:(إِقَامَةُ حَدٍّ بِأَرْضٍ خَيْرٌ لِأَهْلِهَا مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا). (صحیح ابن حبان ۲۴۳/۱۰).
ژباړه: له ابو هریرة (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي په ځمکه کې یو حد نافذول د څلویښتو ورځو تر باران غوره دی.
لکه څنګه چې د باران په اوربښت سره نباتات، حشرات او حیوانات له ژوند څخه تازه او نوی خوند اخلي؛ دا شان د حدودو په نفاذ سره د فساد مخنیوی کېږي، چې په انسانانو، حیواناتو، حشراتو او نباتاتو هم د الله تعالی رحمت رانازلیږي.
دا یو څرګنده حقیقت دی چې اسلام د عدل دین دی، داسې هم نه ده لکه غربیان او مستشرقین چې وایي: اسلام یوازې د عقوباتو (سزاګانو) دین دی. بلکې اسلام د عقائدو، عباداتو، معاملاتو او حقوقو تګلاره هم ده.
د اسلامي امارت یو له اساسي موخو څخه د ځمکې په سر د شرعي حدودو او احکامو پلي کېدل دي، یادې موخې د الهی نصرت، د خلکو د سپېڅلي جهاد او د شهیدانو د وینو په برکت لاسته راغلي. لله الحمد اوسمهال افغانستان هغه هیواد دی چې محاکم یې په مجرمینو د الهی احکامو مطابق حدود پلي کوي.
د افغانستان اسلامي امارت له کلیدي وزارتونو څخه یو هم د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت دی. چې په ټولنه کې د معروفاتو د اقامې او د منکراتو د ازالې مسؤلیت په غاړه لري او د شرعي حدودو پلي کولو ته ژمنتیا لري، له همدې وجهې په څرګنده ویلی شو چې د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو په هڅو د شرعي احکامو په تطبیق سره په ټول افغانستان کې یوه با آمنه او مصؤنه فضا رامنځته شوې ده.
یاد وزارت د معروفاتو د اقامې او د منکراتو د ازالې له لارې هڅه کوي تر څو داسې ټولنه رامنځته کړي چې په مشکله توګه یو څوک دې ته برابر شي چې حد پرې جاري شي.

**والسلام**

**د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت**

# پیام وزارت تحصیلات عالی امارت اسلامی افغانستان

# پیرامون تطبیق حدود شرعی و نقش آن در تأمین امنیت

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله جل و علی والصلاة والسلام علی نبیه المصطفی و علی آله و اصحابه و اتباعه النجباء و

اما بعد

قال الله تبارک و تعالی:﴿ وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُو۟لِي ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ (البقرة: ۱۷۹)

.قال الله تبارک و تعالی:﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُوا۟ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِا۟ئَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (النور:۲)

و قال الله تبارک و تعالی:﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَمْ يَلْبِسُوٓا۟ إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴾(الانعام: ۸۲) نظم و امنیت اجتماعی،اعتماد اطمینان عامهء مردم، نسبت به حفظ ارزش های دینی، مذهبی و مالی، از اهداف و مقاصد اصلی دین مبین اسلام و شریعت مطهر و از اساسی ترین بخش ها و حساس ترین حوزه های امنیت و از نیاز های اولیه ی جوامع بشر به حساب می آید.

ضرورت حیاتی آن، هنگامی درک می شودکه انسان پیامد های ایجابی و سلبی را شناسایی نماید.حفظ جان، مال،عقل،ناموس و حیثیت انسان، متوقف به وجود امنیت و ثبات اجتماعی می باشد. اگر امنیت از جامعه ی رخت بربندد، و به جای آن هرج و مرج و نا امنی گسترش پیدا کند، به گونه ی که جان، مال، ناموس،عقل و آبروی افراد در معرض خطر قرارگیرد، قطعاً ادامه ی حیات، زندگی و پیشرفت در چنین شرایط ناامنی، امکان پذیر نخواهد بود.

ال سخن را با این سوال پی می گیریم که: دین اسلام برای ایجاد نظم و امنیت در جامعه، چه راهکار های را در نظر گرفته است؟

پاسخ خیلی مهم و اساسی در این موضوع این است که از منظر اسلام دین مقدس اسلام: نظم و امنیت اجتماعی، جایگاه خاص و ویژه ی را در متن فرهنگ غنی اسلام، به خود اختصاص داده است.دین مقدس اسلام برای ایجاد وضعیت مطلوبی که در پرتو آن، عامه ی مردم در تمامی زوایایی زندگی فردی ،اجتماعی،اقتصادی، سیاسی، مادی و معنوی از آرامش و امنیت کامل برخوردار شوند.

اصول و قوانین را برای جوامع بشری تشریع نموده است، تا ازیک سو از درون،انسان ها را متحول ساخته و زمینه ی اکتساب فضایل اخلاقی را فراهم سازد، و از طرف دیگر علیه مجرمان، اراذل و قانون شکنان که با اعمال و رفتار غیر انسانی و غیر اخلاقی خویش،امنیت و آرامش مردم را برهم زده و نظم عمومی را مختل می سازد، مبارزه ی جدی، مداوم و قاطعانه ای را سازماندهی نموده است.

دین اسلام درکنار اصل خود آگاهی، اصول و راهکار هایی را به منظور پاکسازی جامعه از فساد و تبهکاری وم بازره و پیکار با ریشه های ناامنی و ناهنجاری های اجتماعی؛ اجرای حدود و قوانین جزایی را تشریع نموده است و آن را مورد توصیه و تأکید و الزام قرار داده است.

اگر حاکم و حکومت اسلامی بدون هیچ گونه تبعیض و تفاوتی، دقیقاً حدود و قوانین جزایی را اجراء نماید، می توان گفت که بهترین راهکار را برای استقرار نظم و امنیت توسعه و گسترش آن و مبارزه با چالش های فردی،اجتماعی،سیاسی،اقتصادی، فرهنگی و صحی، و خشکاندن ریشه های نا امنی، بزهکاری و تبهکاری...در نظر گرفته است.حدود و احکام جزایی الزام نموده.

اسلام: قصاص،حد ردت، حد سرقت، حدزنا، حد شراب نوشی، تعزیرات و غیره است که قرار ذیل تبیین می گردد.

قصاص: به معنای مقابله ی به مثل در جنایات عمومی و عمدی است.عزیز ترین سرمایه ی انسان در زندگی دنیوی، حیات او است که ارزش حیات انسان با هیچ چیز دیگری، قابل مقایسه نیست، تاجای که جرم قتل و آدم کشی،در ردیف گناهانی چون شرک به خدا، وکشتن یک انسان به منزله ی کشتن تمام انسان ها و هدایت و نجات

یک انسان به منزله ی هدایت و نجات تمام انسان ها تلقی شده است.

دین مقدس اسلام درکنار سایر اصول تربیتی و ضوابط دیگری،قانون قصاص را در نظر گرفته است و با تشریع و اجرای آن، حیات را برای جامعه ی انسانی به ارمغان آورده و عرصه ی زندگی را برای تاخت و تاز افراد مجرم، تبهکار و متخلف از قوانین و مقررات،که مانع آسایش و آرامش زندگی مردم می شوند، تنگ نموده است.لذا در یک جمله ی کوتاه اما بسیار رسا و بلیغ و پر معنا،فلسفه ی قانون قصاص را بیان داشته است و چنین می فرماید:﴿ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾ (البقرة: ۱۷۹).

لذا خداوند منان فرموده اند:﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ﴾ (البقرة:۱۷۸).

محارب و راهزن(قطاع الطريق) کسانی هستند که امنیت جانی، مالی،اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی مردم را مختل می سازند، آرامش وسکون جامعه را برهم می زنند و نا امنی بزرگی را درعرصه ی حیات انسان ها به وجود می آورند.اسلام عزیز برای زدودن این نا امنی، بهترین راهکار خشکاندن این پدیده را تشریع نموده وخدای متعال چنین می فرماید:﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ (المائدة:۳۳).

جزا وکیفرآن های که باخدا وپیامبرش به جنگ برمی خیزند ودر روی زمین اقدام به فساد می کنند وبا تهدید اسلحه به جان، مال و ناموس حمله می برند، همین است که اعدام شوند یا بدار آویخته گردند یا دست راست و پای چپ آن ها و یا به عکس یکدیگر بریده شوند و یا از سرزمین خود، تبعید ویا حبس گردند؛ تا با این رسوایی دیگرکسی

جرئت چنین نا امنی در جامعه اسلامی وانسانی را نکند.

**مرتد:** کسانی که از دین بر می گردند، امنیت فکری و روانی را مختل نموده وسیله شوم ومورد استفاده ای دشمنان ملت وکشور قرارگرفته به جامعه اسلامی و ملت مسلمان خیانت می کنند.شکوک و شبهات را برای مردم ایجاد نموده باعث ضعف و تزلزل عقیده وفکر مسلمانان شده وکشور را مورد تهدید نا امنی بزرگ قرار می دهند، اسلام عزیز برای خشکاندن این پدیده ی ناامنی، زدودن مرتد را از روی صحنه هستی تشریع نموده و به قتل آن حکم نموده است.پیامبراکرم صلی الله علیه وسلم دراین مورد چنین می فرماید:«**مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ**»(محمد بن اسماعیل البخاری، ج، ۱۰ص، ۲۱۱ ،ح ٦۹۲۲، ابویوسف القاضی الخراج،ص، ۱۹٦)

**سارق و دزد:** وسیله ای بر هم زنی مال و ا قتصادجامعه است. در ضمن امنیت اجتماعی و جان و ناموس مردم را نیز تهدید می کند.خدای متعال برای زدودن این پدیده شوم، به قطع دست چنین جنایت کار دستور داده تا دیگر جرئت چنین نا امنی را نکند و جامعه از شر و بدی وی درامان باشد.خداوند متعال دراین رابطه چنین می فرماید:﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلٗا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ﴾ (المائدة:۳۸)

دست مرد و زن جنایتکار، می بایست به همین جزا وکیفر عملی بی انجامد، تا درآینده زندگی ازیک سو جرئت نکند و از سوی دیگر چنین جنایتی را در فکر نپرورانند و فراموش نکند.

**زنا:** تجاوز بر فرد و ناموس خانواده ها است. زنا وسیله ی درهم آمیختگی انساب،جرم و جنایت و نا امنی و احیاناً باعث نزاع و خون ریزی در جامعه می گردد. شهوت جنسی، آتش زیرخاکستری را می ماند، که اگر درست جهت داده نشود و کنترول نگردد، هر لحظه امکان دارد فردی،خانواده ای و یا جامعه ای را طعمه خویش ساخته و نابود کند.

دربعضی آیات قرآن عمل شنیع زنا، درکنار گناهانی چون، شرک به خدا و قتل نفس

آمده است،که این خود شدت جرم زنا را می رساند، علاوه بر آن باعث امراض مانند ایدز دیگر بیماری های ساری و مهلک و خانمان سوز می گردد که تنها به خود شخص زانی بدکار آسیب نمی رساند، بلکه دامنگیر خانواده و تمام جامعه می گردد.از همین جا پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم می فرماید:« لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلاَّ فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ وَالأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلاَفِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا»(ابو عبدالله محمد بن یزید القزوینی، سنن ابن ماجة ج، ۵ ص، ۱۵۰).

بنا بر این، خدای متعال چنین می فرماید:﴿ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِاْئَةَ جَلْدَةٍۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ (النور :۲)

**شراب:** وسیله ی از بین بردن عقل انسان هاست.عقلی که سرمایه بزرگ زندگی انسان و مایه اصلی فرق میان او و حیوانات است. از سوی دیگر عقل سبب تکلیف شرع شریف و مورد توجه خطاب الله متعال است. زمانی که عقل از بین برود، آدمی مرتکب ده ها جریمه دیگر، از قبیل قتل،دزدی، غارت،و و... را در جامعه مرتکب می گردد و از سوی دیگر شراب و دیگر مخدرات باعث خرابی صحت و سلامتی جسمی،مانند خرابی سیستم تنفسی،سیستم هاضمه،اعصاب و روان و غیره می گردد.

اسلام برای جلوگیری از این آسیب های فردی و آسیب های اجتماعی،حد شراب نوشی را به عنوان تهدید با تازیانه مشروع گردانیده، تا فرد، دیگر از این جریمه باز آید و باعث نا امنی خود و جامعه نگردد.پیامبر بزرگ اسلام چنین می فرماید: «من شرب الخمر، فاجلدوه، و من عاد فاجلدوه، فإن عاد فاجلدوه، فإن عاد، فاقتلوه»(محمد بن حبان بن احمد بن حبان بن معاذ بن معبد، التمیمی،ابوحاتم،الدارمی، البستی، ج، ۱۰ص، ۲۹۵)

## نتیجه گیری

این حدود با این همه نقش فواید و ثمرات که دارد، جنبه ای تطبیقی دارد.اجرای حدود و تطیق قوانین جزایی و کیفری دارای فواید و ثمره های ذیل است.

۱-تطبیق و اجرای حدود علاج و راه شرعی و عقلی برای کنترول جنایت هاست از

قبیل: قتل،سرقت،ارتداد، راهزنی، شراب نوشی و ارضاء و کنترول غرائز جنسی.
۲-تطبیق و اجرای حدود بهترین وسیله و مؤثر ترین روش بازدارنده از جرم و جنایت هاست.
۳- تطبیق و اجرای حدود آرامش وآ سایش فردی و اجتماعی را تأمین نموده و آن را گسترش می دهد.
٤-تطبیق و اجرای حدود دغدغه و نگرانی روحی و روانی غیرتمندان عفیف و پاکدامن را مرتفع می سازد.
۵- تطبیق و اجرای حدود مصالح و اهداف علیای شریعت اسلامی را رعایت می نماید.
٦-تطبیق و اجرای حدود عدالت را تأمین نموده و جنایت کاران را اصلاح می کند.
۷-ضمن اینکه یکی از اساسی ترین فلسفه های تأسیس حکومت اسلامی و ایجاد ارگان های قضایی و محاکم ،درکنار رسیدگی به حقوق ضعفاء، اعتماد سازی میان دولت و ملت،ریشه کن کردن ظلم و بی عدالتی ،تطبیق حدود شرعی و اجرای قوانین جزایی اسلامی است، در صورت عدم اقامه ی حدود و تطبیق و اجرای آن فلسفه ی ایجاد محاکم قضایی و عدلی ایجاد قوای اجرایی دولت اسلامی زیر سوال رفته و یک نوع سوء ظن را نسبت به آن ها ایجاد می کند.
۸-به وسیله تطبیق حدود و اجرای آن، دین و عقیده، عقل و فرهنگ،جان و مال و آبروی مردم و ملت ها حفظ می گردد.
۹-تطبیق اجرای حدود دست های آلوده وکثیف را از حریم عفاف مردم کوتاه می کند.
۱۰-با تطبیق حدود شرعی و اجرای آن، هیبت و ابهت حکومت اسلامی حفظ و سیاست آن استوار می گردد.
۱۱-با اجرای حدود شرعی، عناصر جنایتکار از جامعه اسلامی حذف می گردد، و این یکی از اقتضاهای عقلانی و قرآنی است.
۱۲-علاوه بر موارد فوق اجرای حدود و تطبیق قوانین جزایی شریعت اسلام، مایه و سبب نزول رحمت الهی و وسیله جذب برکت های معنوی و مادی می گردد، چنانچه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرموده اند:«حَدٌّ يُقَامُ فِي الْأَرْضِ، خَيْرٌ لِلنَّاسِ مِنْ أَنْ

يُمْطَرُوا ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا» یک حدی که در روی زمین اقامه و اجراء شود،از اینکه سی یا چهل شب و روز باران ببارد، برای شان بهتر است. «ابوعبدالله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد الشیبانی، مسند الامام احمد بن حنبل، ج، ۸ص،٤٠٤). اجرای حدود رحمت برای عموم مردم، افراد جنایتکار و برای تمام جامعه است.

به امید این که ظلم، تجاوز،سرقت،اختلاس، نا امنی ها و ناهنجاری ها،با تطبیق و اجرای قوانین،احکام و دستورات اسلام، در تمام جهان اسلام، به ویژه درکشور عزیز ما افغانستان توسط حاکمیت امارت اسلامی رخت بر بندد و خورشید عدالت و برابری، امنیت و آزادی و سعادت و خوشبختی، از ورای جبال و حجاب های خفقان، استثمار و استعمار و بی عدالتی و نامردی،سر برآورده و بر صفحه ی زندگی تاریک و آشفته ی انسان ها، بدرخشد و چشمه ساران فضیلت، انسانیت و نیکبختی، از هر سو،به جوش آمد» و بر پهنه ی کویر زندگی، جاری شود، گل های اخلاق و آزادی از هرسو جوانه زده و گل بته های امید، صلح، و آرامش و امنیت سراسری و دایمی،زینت بخش آغوش گرم انسان ها و اجتماعات بشری گردد.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

**د افغانستان اسلامي امارت**

# د امنیت د ټینګښت په برخه کې د شرعي حدودو د تطبیق د نقش او اهمیت تر سرلیک لاندې جوړ شوي سیمینار ته د کورنیو چارو سرپرست وزیر پیغام

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمدلله والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفى وبعد!

فقد قال الله في محكم التنزيل:

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سورة البقرة: ۱۷۸]

د اسلامي حدودو تنفیذ په خپلو نورو ګڼو ښېګڼو سربېره په ټولنې کې د واقعي امن د ټینګښت لامل ګرځي.

ځکه دا یو اسلامي حکم دی او اسلام د سپیڅلي دین ټو احکام د بشري ټولنې د رفاه، سعادت او موفقیت ضامن دی.

که د قرآن کریم د احکامو، امر و نهي ترتیب ته وکتل شي هلته به ولیدل شي چې انسانان په مجموع کې پر هغه مأمور شوي چې د دوئ له فطرت سره برابر او له ټولو هغو کارونو څخه منع دي چې د دوی له سالم فطرت یې له ارتکاب څخه نفرت کوي.

د اسلام مقدس دین د انسانانو د سعادت لپاره د اسلام له جزایي نظام پرته نور هم داسې ښکلي احکام لري چې د هغوی د دنیا او آخرت نیکمرغي تضمینوي.

ځینې د اسلام له روح نه ناخبره انسانان هغه یواځې د حدودو په تطبیق کې محدود دین بولي چې د ټولنې له نورو اقتصادي، اجتماعي، معاشرتي او اساسي برخو سره اړخ نه لګوي.

خو واقعیت داسې نه دی، بلکې د الله تعالی د دې ارشاد له مخې چې [إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ] [ آل عمران:۱۹]

او [ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِين [آل عمران:۸۵]

په قرآني تعبیر کې د قصاص تطبیق ته ژوند ویل شوی او هغه ځکه چې په مشروع ډول

پر یوه قاتل د قصاص حکم پلي کیدل په حقیقت کې د ډیرو انسانانو لپاره د عبرت لامل گرځي چې هغوی بیا کله هم د یوه انسان ناروا قتل ته زړه نه ښه کوي چې دا په حقیقت کې د امنیت د تأمین اساس تشکیلوي.

د شرعي مقرراتو مطابق د شرعي حدودو تطبیق دیوه اسلامي نظام له اساسي مکلفیتونو څخه دي.

ځکه د ټولنې دټولو خپلسریو او بې بندو باریو مخنیوی دشرعي حدودو په تطبیق سره کیږي.

قران کریم د المائده سورت په ۳۳ آیت کې ارشاد کوي: [إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ] [ المائدة: ۳۳]

که د دې الهي حکم روح ته ځیر شو نو هلته ښکاره جوتیږي چې د اسلام د جزایي نظام تطبیق هلته تر سره کیږي چې کله انسانان له خپل سلمي مسیر څخه منحرف او په داسې کارونو اقدام وکړي چې هغه د نورو انسانانو  د ژوند گواښلو لامل وگرځي.

اسلامي امارت چې اوس مهال زمونږ پر اسلامي هیواد حاکمیت لري د خپل ولس د امن د تأمین په غرض د شرعي احکامو په رڼا کې د ټولو هغو مقرراتو تطبیق ته اړتیا لري چې په هیواد کې د گډوډۍ او نا امنۍ مخنیوی کوي.

البته په دې لار کې د ولسي حمایت شتون لازمي گڼل کیږي.

والسلام.

د کورنیو چارو سرپرست

الحاج خلیفه سراج الدین( حقاني)

**بسم الله الرحمن الرحيم**

# پیام وزارت عدلیه : تطبیق حدود شرعی و نقش آن در تأمین امنیت.

الحمد لله الذی خلق کل شیء فقدّره تقدیرا و احکم شرائعه ببالغ حکمته بیاناً للخلق و تبصیراً و صلی الله علی من جاء بالحق بشیرا و نذیرا و علی من صحبه و تبعه و جاهد لتقویة دینه جهاداً کبیراً و سلم تسلیماً کثیراً.

قال اللّه تبارک و تعالی:﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٌ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ (المائدة۳۳)

﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلٗا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (المائدة:۳۸)

﴿ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ (النور:۲)

﴿وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾ (البقرة: ۱۷۹)

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ﴾ (البقرة:۲۰۸)

در این آیات مبارکه مراد از السلم اسلام است وکافة حال است یا از ضمیر ادخلوا و یا حال است از السلم، اگر حال از ضمیر ادخلوا شود که راجع به مؤمنین است، پس معنای آن چنین می شود:(ادخلوا فی السلم کافة) ای: جمیعاً لایخرج منکم احد، یعنی هر فرد، فرد شما به اسلام داخل شود. در پذیرش احکام اسلام استثناء نیست. اگر حاکم باشید یا رعیت باشید،همه قبول کنندهء احکام شریعت می باشید و در زندگی خویش آن را عملی می نمائید.

اگر کافة حال از السلم شود، پس معنای آن چنین می باشد:لایخرج من انواع السلم شیء بل ادخلوا فیها جمیعاً ای ادخلوا فی جمیع شرایعه.یعنی؛ الله تعالی به ما امر می نمایدکه شما تمام احکام شریعت را قبول کرده و آن را باید عملی نمائید.در این جا دو

مسأله معلوم گردید.
مسأله اول: الاسلام کل لایتجزأ،فمن آمن به وجب علیه الاخذ به کله، فلایختار منه ما یرضیه،و یترک مالا یرضیه.
مسأله دوم: یک نظام وقتی کامیاب می باشد که آن نظام من حیث النظام همه تطبیق گردد و اگر تمام احکام یک نظام من حیث النظام تطبیق نگردد، بلکه بعضی احکام آن تطبیق و بعضی آن تطبیق نگردد، پس مدعیان آن خود شان این نظام را به ناکامی مواجه نموده اند وآ ن را ناکام می کنند؛ بناءً اسلام یک نظام مقدس است، پس ضروری است که تمام نظام عملی و تطبیق گردد و این به این هم دلالت دارد که تمام احکام آن در کشور عزیز ما افغانستان عملی و تطبیق گردد که از این جمله حدود نیز می باشد.بالفرض اگر جز از حدود سایر احکام را تطیق نماییم؛ اما حدود را تطبیق نکنیم ،پس در اجتماع از جرایم جلوگیری نمی شود که با آن تمام بخش های جامعه متأثر می گردد، و اگر فقط حدود را جاری نماییم و سایر احکام مانند احکام مربوط به سهولت های زندگی مردم را مثلاً تطبیق نماییم، پس ما به جهانیان اسلام را چنین معرفی می نماییم که معنای اسلام این است که دست دزد را قطع کن،زانی را با دره بزن یا وی را رجم کن و بس حال این که اسلام فقط قایم کردن حدود نیست؛ بلکه علاوه برحدود، تطبیق سایر احکام نیز جزء نظام اسلامی می باشد؛ بناءً علاوه بر سایر احکام اسلام، تطبیق حدود نیزبخشی از اسلام است، که با تطبیق آن، سدباب و ختم جرایم از جامعه می گردد. همین سبب است که در جامعه ای که حدود شرعی تطبیق شده است،آ ن جامعه امن ترین جامعه گردیده است.تعداد مجرمین و آمار جرمی در آن جامعه در سطح پائین تر از همه رسیده است.
حدود الهی جنبهء اصلاحی داشته و تطبیق آن بالای مرتکب سبب اصلاح و مانع ارتکاب جرایم بعدی از جانب وی می گردد. قابل یاد آوری است که تطبیق حد بر مرتکبین یکبار دیگر همان هدف اولی حدود (جنبه ارعابی حدود)را بدست می دهد؛زیرا تطبیق حدود بالای مجرمین سبب ارعاب سایر اعضای جامعه گردیده و آن ها را از ارتکاب جرایم باز می دارد.اگرحدود الهی به دقت توجه گردد، واضحاً معلوم می

گردد که این حدود در راستای صیانت از منافع اجتماعی و منافع فردی وضع گردیده است و اهمیت بیشتر به جنبه اجتماعی حدود گذاشته شده است؛زیرا اجتماع امن، سالم، و عاری از جرایم سبب تأمین آسایش و آرامش افراد ساکن در آن جامعه گردیده و سبب می گردد،تا عدالت الهی در روی زمین به وجه احسن آن تآمین گردد.
قابل یاد آوری می دانیم اینکه؛ جزاها در شریعت اسلامی بر دو پایه مهم استوار می باشد؛ که همانا توجه به جرم و توجه به مجرم می باشد، به این ترتیب جرایمی که جامعه را تهدید نموده و در معرض خطر قرار می دهد نسبت به سایر جرایم دارای اهمیت و حساسیت بیشتر می باشد به همین دلیل مجازات آن جرایم نیز از طرف شارع حکم به صورت ثابت مشخص گردیده است، حاکم و مجریان شریعت حق ندارندکه چیزی از آن مجازات را کم یا زیاد کنند که در همچو جرایم، توجه به شخصیت فرد صورت نگرفته مصلحت جامعه مورد توجه بوده و به آن ترجیح داده می شود. از آن جایکه جرایم حدود برای پاسداری از حفظ امنیت و نظم جامعه و مصلحت عمومی به آن وابسته می باشد،رب العالمین درکلام مقدس خود در بسا آیات آن تصریحاً،تلویحاً و اشارةً برای تطبیق آن تأکید کرده است، و اجرای حدود و قصاص را مایهء حیات بشریت قلم دادکرده است.
اجرای حدود شرعی در راستای مصلحت و سعادت نوع بشری بوده و اجرای آن، نسل و نظام خانواده گی را حفظ نموده صیانت از ععقل نموده و مضرات طبیعی و اخلاقی را دفع می کند، از تجاوز و تعدی به حقوق مردم جلوگیری نموده و نظام اقتصادی را پایدار نگه داشته و ضامن امنیت و آسایش افراد در جامعه می گردد.
تجربه نشان داده که در طول تاریخ جوامع اسلامی هر حکومتی که اجرای حدود شرعی را خط مشی خود قرار داده،نتیجه مثبتی در تأمین امنیت قلمرو حاکمیت مربوط،به دست آورده است و در صورت عدم توجه به اجرای حدود نتیجهء معکوسی حاصل گردیده است.
علی سبیل المثال اکثریت کشور های اسلامی در صورت عدم توجه به اجرای حدود الهی درحیطهء امنیت شان دارای مشکلات گوناگونی بوده اند. چنانچه در طول مدت

بیست سال دوران اشغال امریکا و متحدین آن جمع حکومت دست نشاندهء ایشان نتوانستند برای ملت متدین و ستمدیدهء این کشور امنیت را فراهم نماید.
لله الحمد والمنة امارت اسلامی افغانستان بعد از پیروزی و ختم اشغال به فضل و یاری پروردگار و همت والای مجاهدین با تبانی و همکاری ملت غیور خود توانسته امنیت کامل و سرتاسری را در این سر زمین شهید پرور تأمین نموده و دست متجاوزین، مفسدین و معاندین را از سر این ملت مظلوم کوتاه نماید.

والسلام

## د امنیت په ټینګښت کې د شرعي حدودو د تطبیق رول، علمي او څېړنیز سېمینار ته د اطلاعاتو او فرهنګ د سرپرست وزیر پیغام

الحمد لله رب العٰلمين والعاقبة للمتقين والصلٰوة والسلام على خير خلقه محمد وعلى آله واصحابه اجمعين.

اما بعد:

فاعوذ بالله من شيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم. وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ .(البقرة: ۱۷۹).

د امنیت په ټینګښت کې د شرعي حدودو د تطبیق رول د څېړنیز او علمي سېمینار درنو ګډونوالو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

د افغانستان علومو اکاډمي له خوا (د امنیت په ټینګښت کې د شرعي حدودو د تطبیق رول) تر عنوان لاندې علمي او څېړنیز سېمینار یو مناسب او نیک ګام دی، د رب العزت جل جلاله په نصرت او د میړنیو مجاهدینو د شهادتونو، وینو، میړانې او شهامت له برکته په ټول افغانستان کې اسلامي امارت واکمن دی، له هر لحاظه د دې وخت دی چې شرعي حدود په بشپړه توګه نافذ وګرځوي؛ ځکه د اسلامي امارت نظام له موخو یوه یې همدا د شرعي حدودو تطبیق او نفاذ دی.

اسلامي شریعت د انسانانو د فردي او ټولنیز ژوند د ښېګڼې له پاره د عقل له معیاره پورته احکام او قوانین لري، چې تطبیق یې نه یوازې د انسانانو دنیوي ژوند کې د سوکالۍ، امنیت او پرمختګ لامل ګرځي، بلکې د اخروي تلپاتې ژندې ګۍ ګټې هم تضمینوي. د اسلام جزایي قوانین چې مونږ یې د قصاص، حدودو او تعزیر په نومونو پېژنو، هغه قوانین دي چې په تطبیق سره یې فردي او ټولنیز عدالت او امنیت رامنځته کېږي، الله تعالی د خپل بېشانه رحمت په اساس د خپلو بنده ګانو د دین، نسل، نفس، عزت او مال د ساتنې او خوندیتابه په موخه په عظیم الشان قران کې د قصاص، لاس پرېکېدو، سنګسار، رجم، د بهتان حد، د شرابو څښلو حد او نورو غېرې انساني

کړنو په اړه په څرګند ډول حدود ټاکلي دي، چې په تطبیق سره یې ټولنه او وګړي د جرمونو د سختې او بربادونکې اوبا څخه ژغورل کېږي.
د عدالت او امنیت د تامینېدو په خاطر اسلامي نظام اړ دی، چې د الله تعالی له لوري ټاکلي حدود پلي کړي، تر څو په ټولنه کې عدالت او امنیت تامین شي.
په پای کې د دې علمي او څېړنیز سېمینار ټولو قدرمنو ګډونوالو، لیکوالو او استادانو څخه د زړه له تله مننه کوم، چې دې علمي او څېړنیز مهم سېمینار کې یې ګډون کړی او په خپلو علمي او څېړنیزو مقالو سره د هیواد وګړي د شرعي حدودو د تطبیق له ارزښت او اهمیت څخه خبروي؛ همدارنګه د افغانستان علومو اکاډمي قدرمن مشرتابه او درنو غړو کور ودانی وایم چې تل یې ارزښتمن سېمینارونه په لاره اچولي او د هیواد د سوکالۍ او ارامۍ فکرونه ورسره دي.

**اسلامي نظام تر چتر لاندې د یو تلپاتې افغانسان په هیله!**

**الحاج ملا خیر الله خیرخواه**

**د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر**